دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسي ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسي ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکي او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت شپږم کال، ۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د وری ۱۲ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الاول ۳۰ مه د۲۰۱۴ م د اپریل لومړی

جلسات متعدد صدها هزار نفری به حمایت تیم اصلاحات و همگرایی

همه به یک صدا: به تیم اصلاحات و همگرایی رأی میدهیم

شهادت:
رهبران تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی برهبری دکتور عبدالله عبدالله به سلسلهٔ کمپاین انتخاباتی به ولایات بدخشان، تخار، کندز، بلخ، خوست، پکتیا، کندهار، بامیان و پنجشیر سفر کردند که در هر جلسه ده ها و صدها هزار نفر با شوق و شور و هلهله شرکت کردند که نعره های تکبیر به هر سو طنین میانداخت.

(ص، ۴)

د بدخشان واخان دویم ملي پارک وبلل شو

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د کرنې وزارت او د چاپیریال ساتنې ملي ادارې د بدخشان ولایت د واخان سیمه د دغه هېواد دویم ملي پارک په نامه ونوموله.
د چارواکو په وینا د دغه کار موخه د افغانستان د طبیعي او فرهنګي میراثونو د تل پاتې کېدو لپاره ده او په خبره یې دغه ګام د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره پورته شوی دی. لکه چې...

(۴ مخ)

روسیه برای تسلیم دهی ۳۰ هلیکوپتر به افغانستان متعهد است

مسکو، رسانه ها:
روسیه می گوید: تعهدش را برای تسلیم دهی سی هلیکوپتر برای قوای هوایی افغانستان به جا خواهد آورد.
یک مقام ارشد روسی در حالی از این موضوع سخن گفته که ایالات متحده امریکا، خواهان تعلیق روابط نظامی اش با روسیه شده است.
اختلاف های امریکا و روسیه روی مساله اوکراین و کریمیا، برخی نگرانی ها را در مورد همکاری های دو کشور در افغانستان به میان آورد.
امریکا بزرگ ترین کمک کننده برای افغانستان است و نیرو های افغان...

(ص، ۴)

د ټاکنو په ورځ به ۸۴۸ مرکزونه تړلي وي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون وایي، د دوی د وروستیو ارزونو پربنسټ به د ټاکنو پر ورځ د رای اچولو ۸۴۸ مرکزونه تړلي وي او پر ځای یې ۶۴۲۱ مرکزونه به پرانیستي وي.
دغه مرکزونه به د هېواد بېلابېلو برخو کې تړلي پاتې وي.
دا چې ولسمشرۍ ټاکنو ته د ګوتو په شمار ورځې پاتې دي،...

(۴ مخ)

ناتو: نمی گذاریم تروریستان به افغانستان برگردند

کابل، رسانه ها:
یک مقام ارشد ناتو گفت، نمی گذارند که افغانستان بار دیگر به پناه گاه امن برای تروریستان مبدل شود.
او افزود که ناتو در پهلوی افغانستان خواهد ایستاد و نخواهد گذاشت که طالبان به قدرت برگردند.
این مقام ارشد ناتو که پیش از آغاز اجلاس وزیران خارجهٔ ناتو در پروکسل مرکز بلجیم به طور اختصاصی با رادیو آزادی صحبت می کرد گفت که ناتو به تعهد خود به ادامهٔ حمایت از نیرو های امنیتی افغانستان پس از سال ۲۰۱۴ میلادی...

(ص، ۴)

په پاکستان کې دوه میلیونه افغانان له رایې ورکولو محروم دي

په پاکستان کې ۲،۶ میلیونه افغانان د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د رایې ورکولو څخه محروم دي. پر پاکستان سربېره به د افغانستان په بل ګاونډي هېواد ایران کې هم شاوخوا دوه میلیونه افغان کډوال خپلې رایې و نه کاروي

کابل، رسنۍ:
په پاکستان کې ۶، ۲ میلیونه افغانان د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د رایې ورکولو څخه محروم دي. پر پاکستان سربېره به د افغانستان په بل ګاونډي هېواد ایران کې هم شاوخو دوه میلیونه افغان کډوال خپلې رایې و نه کاروي.
د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د ارقامو له مخې، په پاکستان کې د کډوالو په ۸۰ کمپونو کې ۶، ۱ میلیون افغان کډوال ثبت دي. په داسې حال کې چې ...

(۴ مخ)

آخرین هفتهٔ کمپاین

فدامحمد فایض

«اینکه ارگ میگوید از هیچ نامزدی حمایت نمیکند این در حقیقت توهین به ملت افغانستان است، معنای این گپ آن است که ملت افغان از کدام جنگل افریقا برآمده به افغانستان آمده، نه این کشور را میشناسد، نه زمامداران آنرا میشناسد و نه از جریاناتی که در پشت پرده مصروف است خبر است، ملت هم باید دیگر از خواب گران برخیزد و نگذارد که یا آمدگان از غرب و یا بقایای نظام خونخوار کمونستی بر سرنوشتش بازی کند. رأی یک امانت بزرگ ملی است، با آن نباید بازی صورت گیرد.»

(ص، ۳)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

مسؤولیت ملت مسلمان و مجاهد:
رأی به تیم اصلاحات و همگرایی

امروز روی سخن ما بار دیگر بسوی ملت مسلمان و مجاهد افغانستان است، زمان کمپاین انتخابات ریاست جمهوری و ضمناً شوراهای ولایتی بتاریخ ۱۳ حمل ۱۳۹۳ رسماً پایان میباید و ما اگر خواست خدا باشد، بتاریخ ۱۶ حمل ۱۳۹۳ یعنی روز شنبهٔ آینده بپای صندوقهای رأی میرویم. این روز را باید به هیچوجه دست کم نگیریم: زیرا ۱۶ حمل روزی است که سرنوشت پنج سال آیندهٔ کشور غرقه بخون ما در آن رقم خواهد خورد، بناء فرد فرد ملت ما مسؤولیت داریم، دیگر روزهای قومگرایی، قبیله گرایی، سمت گرایی و امثال آن به پایان رسیده است، ملت مجاهد ما دیگر راه خود را یافته است، ما باور داریم که دیگر ملت مجاهد ما از گذشته ها آموخته است. ما نخواهیم گذاشت یکبار دیگر قربانی سلیقه های ناسالم و امیال شخصی کسی شویم.

ملت مجاهد،

آگاه باشید که قاتلان دیروزی شما هم بار دیگر در یک تیم گرد آمده اند و اینبار میخواهند به بهانه دموکراسی و انتخابات دموکراتیک بر سرنوشت شما حاکم شوند. ما باور داریم که آنها رای آورده نمیتوانند: ولی شما ای فرزندان دلیر میهن بار دیگر با یک آزمون سیاسی روبرو هستید. بر شماست که عاقلانه و فرزانه ازین آزمون عبور کنید و نگذارید دست آوردهای جهاد مقدس چهارده سالهٔ شما و خون پدران، برادران و فرزندان شما هدر برود، نگذارید اشک یتیمان و آه بیوه زنان شما هدر برود. آگاه باشید که:

مذهب زنده دلان خواب پریشانی نیست
از همین خاک جهان دگری ساختن است

ملت مجاهد،

آیا آگاه هستید آنهایی که در روزهای دشوار جهاد و مقاومت شما، به تعبیر حافظ «رندان بلاکش» و عاشقان راه خدا را تنها گذاشتند، شما بودید که دشواریهای جهاد و هجرت را صبورانه پشت سر گذاشتید و هر روز شاهد جنازهٔ مجاهدان غرقه بخون و گلگون کفن تان بودید، امروز همان فراریان از شما آمده اند و میخواهند به ارگ راه پیدا کنند و مفت و رایگان بر سر شما حکومت کنند و ثمر قربانیهای بیدریغ شما را در پای اجنبیان بریزند.

ملت مجاهد،

برادران فرزانهٔ شما متوجه این امر شده، دست بدست هم داده و خانهٔ مشترکی را برای شما تهیه دیده اند، این خانهٔ مشترک «تیم اصلاحات و همگرایی» است، آنانی که با آرمان شما ملت مجاهد خداحافظی کردند و در خدمت دیگران قرار گرفتند حساب شان جداست؛ ولی شما صاحب خانه هستید، بار دیگر تأکید میکنیم که خانهٔ شما «تیم اصلاحات و همگرایی» نام دارد. بیایید یکدست و یکصدا برادر وار در یک صف وحدت و حفظ ارزشها و آرمانهای تان بایستید و نگذارید مخالفان ارزشهای شما باز بر سرنوشت تان دست یابند.

بقول داکتر عبدالله عبدالله رئیس تیم اصلاحات و همگرایی «تقلب» یگانه دشمن و حریف این تیم است، آنانی که در بین صفوف ملت جایگاه ندارند و یا جایگاه شان آنقدر ضعیف است که هیچ امیدی بجز از تقلب برای پیروزی خود در برابر تیم اصلاحات و همگرایی ندارند، چشم امید به تقلب و مداخلات در روند برگزاری انتخابات شفاف دوخته اند. ما قدمهایی را که به فشار و رهنمایی مکینان ارگ و یا هم تطمیعها درین راه برداشته شد، دیدیم. این همه قدمها بخاطر باز کردن راه بسوی تقلبات مهندسی شده که در شانزدهم حمل امید آن را دارند برداشته شده. که تیم اصلاحات و همگرایی مصمم به عقیم ساختن این تقلبات است و شما احاد ملت نیز هر کدام درین راستا مسؤولیت دارید. آگاه باشید! هوشیار باشید! و بیدار باشید که به امید خداوند متان سرمنزل پیروزی نزدیک است، پس ای هموطن، تیزترک گام زن منزل ما دور نیست.

فروغګر

ټولټاکنې، د خلکو هيلې او پر وړاندې يې ننګونې

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
Email: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

په داسې حال کې چې په هېواد کې د ټولټاکنو د پيل لپاره د ګوتو په شمار ورځې پاتې دي، وينو چې د افغانستان د امنيت او خلکو دښمنان په ټول توان سره هڅې کوي چې ددغو ټولټاکنو په وړاندې د خپلو ګنو تخريبي عملياتو په وسيله ستونزې راولاړې کړي.

د داخله وزارت د يو رپورټ له مخې ټولو امنيتي ارګانونو ته د هېواد د امنيت په برخه کې تېنګار شوی او ويل شوي دي چې پاکستاني طالبان دهغه هېواد له حکومت سره د درې مياشتني اوربند نه په ګټې اخيستو سره دې هوکړې ته سره رسيدلي چې د افغاني طالبانو د مرستې لپاره به افغانستان ته ورځي او هلته به له هغوی سره اوږه په اوږه زمونږ د هېواد امنيت او ثبات له ننګونو سره مخ کوي،

له بله پلوه ويل شوي دي چې له دغې پرېکړې نه وروسته د خيبر پښتونخوا، سند او بلوجستان ټولې مدرسې هم تړل شوي دي او ددغو مدرسو ډيری طالبان افغانستان ته اووښتي چې د افغان وژنې په ميله کې «برچړکو» برخه واخلي!!!

د هېواد دغسې ترينګلي امنيتي وضعې ته په کتو زمونږ ملي اردو، ملي پوليس، محلي پوليس، د امنيت رياست ټول ارګانونه بايد پر وضعې جدي څارنه ولري او مخ کې له دې چې دښمن زمونږ په ښارونو او نظامي او امنيتي تأسيساتو کې د تخريبي عملياتو تاييا کوي، مخ کې له مخکې يې بايد مخه ونيسي او د دوی شومې طرحې او نقشې خنثی کاندي...

له بده مرغه له يوې اونۍ راهيسې زمونږ د هېواد بيلا بيلې برخې د مخالفو جنګياليو په بريدونو، چاودنو او ځانمرګی بريدونو کې زيانمن شوي او له ملکي تلفاتو سربېره، ډير مالي تاوانونه يې هم زمونږ حکومت او خلکو ته اړولي دي..

زمونږ د هېواد دښمنانو وليدل چې افغان اولس دغو ټولټاکنو يا عمومي انتخاباتو ته خورا ليوال دي او هر ولايت ته د نوماندو نوماندانو په ورتګ سره په لسګونو زره خلک دهغوی بدرګې او راتلونکو پروګرامونو اوريدو ته سره راټولېږي او تمه کېږي چې ددغې دورې په انتخاباتو کې به ډېر خلک ګډون وکړي او افغانستان ته به بين المللي هويت ورکړي نو له همدې لامله يې زمونږ د هېواد په پلازمېنه کابل او ولاياتو کې يې ګڼ بريدونه وکړ او خلکو ته يې د راتلونکو ټولټاکنو په برخ کې انديښنې لاولاړې کړې.. شنونکې پر سرينا هوټل د جنګياليو بريد ته په اشارې سره وايي:

مخالفينو په سرينا کې د دوو تنکيو ماشومانو په وژلو سره وښوده چې د دوی د خپل شوم هوس د پوره کولو لپاره زمونږ پر ماشومانو هم رحم نه کوي او زمونږ اولس ننګوي چې که چېرې تاسې د هېواد ګټو ته کار وکړئ، نو ماشومان به مو هم ژوندي پرې نږدو!!!

خو له دې ټولو سره سره خلک د انديښنو په خوا کې ليوال دي چې په ټولټاکنو کې په پراخه پيمانه ګډون وکړي دلته حکومت ته په کار دی چې لومړی د هېواد د امنيتي ځواکونو په مرسته خپلې ټولې هڅې د انتخاباتي حوزو پر امنيت متمرکز کړي او د هېواد دښمنانو ته دا چانس ورنکړي چې زمونږ د بې ګناه وګړو په وژلو او ويرولو د انتخاباتو بهير له ننګونو سره مخ کړي، حالات نور حکومت ته. نازه نه ورکوي چې د داسې جنايتکارانو په اړه نرم درېځ ولري چې ان زمونږ تنکي ماشومانو په وژلو هم صرفه نه کوي...

شنونکي او د هېواد عام وګړي انديښمن دي چې د يوې اونۍ په دوران کې د ولاياتو په شمول ډيری ځايونه په نښه شوي دي او د بريدګرو په دې بريدونو کې زمونږ تاسيساتو، ملکي او امنيتي وګړو ته ډېر زيانونه اووښتي چې په دې ټولو کې د سرينا کابل هوټل له بريده نيولی بيا د انتخاباتو د خپلواک کميسيون تر انګړه پورې، هغه بريدونه دي چې پر تلفاتو سربيره يې د مرکز په ټولو محافلو کې د ټاکنو د امنيت په برخه کې انديښنې راپارولي دي...

له بله پلوه د ټاکنو خپلواک کميسيون شکايت کوي چې ډېر نوماندان اوس هم په خپلو انتخاباتي کمپاينونو کې د حکومت له امکاناتو په خپله ګټه کار اخلي، نوموړی کميسيون خبر ورکوي چې په دې تړاو يې تراوسه دوه قوماندانان نقدي جريمه کړي او دوه نور يې قضايي مراجعو ته معرفي کړي دي، که د هېواد جمهور رئيس که چېرې د بهرنيانو د مداخلې په اړه، البته د انتخاباتو په بهير کې خبرداری ورکوي او ټينګار کوي چې هېڅ يو بهرني لوري ته ددې اجازه ورنکړي چې د هېواد په ټاکنيز بهير کې مداخله وکړي، په دې برخه کې هم بايد پاملرنه وکړي چې هېڅ يو نوماند د ځان په ګټه له حکومتي امکاناتو ګټه وانخلي، ځکه دغسې کړنې سربيره پر دې چې پر ټاکنيز بهير منفي اغيزه کوي، درغليو ته هم لاره اواروي او په يو ډول پردېو ته هم دا چانس ورکوي چې زمونږ د ټاکنو په بهير کې د خپلو شومو ګټو د پالللو لپاره مداخله وکړي او له بله پلوه ترهګرې ډلې هم دې ته هڅوي چې له دغسې خړې پړې فضا نه په استفادې سره زمونږ انتخاباتي حوزې په نښه کړي.. هيله من يو لکه چې زمونږ اولس راتلونکو ټاکنو ته خورا ليوال دي، د اولس له ارادې سره سم دا ټاکنې د امنيت او ثبات په فضا کې ترسره شي او داسې لاسوهنې په کې ونشي چې د انتخاباتو مشروعيت تر پوښتنې لاندې بوځي.

هو!

ټولټاکنو ته د ګوتو پر شمار ورځې پاتې دي او په راتلونکې اونۍ کې به که خدای کول زمونږ هېوادوال په هېواد کې د ټاکنو د بهير شاهد وي، دعا کوو چې الله جل جلاله له دې د خپل خاص رحمت له مخې د قدرت دغه انتقال په سوله ايزه فضا کې ترسره کړي او په هېواد کې د داسې يو مشرتابه شاهدان واوسو چې زمونږ د ارمانونو د ټوکولو هيله ترې کېږي..

نصرالله

راځئ د خپلو اتلو شهيدانو روحونه خوشاله کړو

د ظاهرشاه، داؤد او د کمونستانو د واکمنۍ پر وخت د افغانستان خلکو هيڅ حق نه درلود چې په مسالمت آميزه فضاء کې د ټولټاکنې له لارې د مسلط شويو واکمنانو اقتدار ته د پای ټکې کېږدي، د هر چا قلم او ژبې ته کولپ اچول شوی و، د بيان آزادي له سره نه وه، که چا به چيرته په کوم مجلس کې پر واکمنانو نيوکه کوله؛ نو ځای به يې د پلچرخي زندان او يا هم قبرستان و، د ميليونو شهيدانو د وينو په برکت هغه اختناق او استبداد له منځه لاړ، او شرايط دېته برابر شول چې نور افغانان د ټولټاکنو له لارې د خپلې خوښې ولسمشر او نظام غوره کړي، په هېواد کې دا درېم ځل لپاره ټولټاکنې دي چې د ورې په شپاړسمه به ترسره کېږي، لکه څنګه چې د ټولټاکنو له نامه نه څرګندېږي ددې معنا او مطلب دا دی چې د هېواد د مشرتابه د ټاکلو حق ولس ته ورکول شوی تر څو د خپلو رايو په کارولو سره د خپلې خوښې نوماند د ولسمشرۍ لپاره غوره او د اقتدار پر ګدۍ کښېنوي،

هېوادوال دې، دې حقيقت ته متوجه شي چې په دغو ټولټاکنو کې ستر مسؤوليت د رأيې ورکوونکو دی د رأی ورکولو امانت الله تعالی د دوی پر غاړه اچولی او ورته يې امر کړی دی چې تاسې خپل امانتونه صحيح استعمال کړئ، يعنې دهغه چا په ګټه يې وکاروئ چې د مشرۍ کوم امانت دهغه پر اوږو باروئ د ترسره کولو اهليت او استعداد يې ولري، همدغه اصل ته په کتو سره رأيه ستر امانت او مسؤوليت دی، په دې سره موږ د خپل هېواد د چارواکې داسې يو چاته سپارو چې راتلونکې پنځه کلونو لپاره د افغانستان د ټولو چارو او مسايلو مسؤوليت پر غاړه واخلي، که موږ له ښشپړ غور او فکر وروسته د خپل ايماني او افغاني مسؤوليت له مخې خپلې رأيې صحيح وکاروله او يو مناسب نوماند مو وټاکه؛ نو له څه شک پرته به مو د خپل هېواد بنسټونه او ملي يووالي مو پياوړی او مستحکم کړی وي، راتلونکی حکومت به زموږ د عملونو ترجماني کوي، ځکه چې د محمد صلی الله عليه وسلم حديث شريف «اعمالکم عمالکم» په همدې حقيقت ګواهي ورکوي چې د چارواکو دارمدار د رعيت او اولس له اعمالو سره مستقيمې اړيکې لري، که ولس صالح، نيک عمل، پرهيزګار، ايمانداره او ديندار وي؛ نو خپل چارواکي هم ايماندار، ديندار او پرهيزګار اشخاص غوره کوي؛ نو ځکه په زغرده ويلي شو چې راتلونکی شنبه زموږ د ايمان، اسلام او د تقوی د امتحان ورځ ده چې خپلې رأيې څنګه استعمالوو، ايا د اسلام، وطن او اولس خدمتګار ته رايه ورکوو او که داسې يو چاته چې د غفلت په درونډ خوب ويده دی؟!

د افغانستان د مسلمان ولس د جهاد تر شا لوی مقصد او انګيزه دا وه چې په افغانستان کې عادلانه اسلامي نظام حاکم شي، د جابرو او مستبدو واکمنانو پرځای زره سواندي مهربان او عادل واکمنان اقتدار ته ورسېږي، د همدې ارمان د تحقق لپاره مو څو ميليونه شهيدان ورکړي دي، د هغوی وارثين او په ميليونو شهيدان په خپل هېواد کې د همغې ورځې په ارمان دي چې د ميليونو شهيدانو ارمانونه ترسره شي او په‌خپل ژوند کې د خپلو سرښندنو او هلو ځلو ثمره ووينې، شهيدانو خپل اسلامي او افغاني مسؤوليت ترسره کړی، هغوی د شهادت د خوږو جامونو په څښلو د الله جل جلاله پر وړاندې سرلوړي دي، د امتحان په ډګر کې موږ ولاړ يو که هغوی خپل سرونه نذرانه کړي؛ نو پر موږ هم ضروري ده چې خپل ايماني مسؤوليت ترسره کړو او لږ تر لږه په ولسمشريزو ټاکنو کې خپلې رأيې هغه چاته ورکړو چې د جهاد پر مهال له هغوی سره يو ځای اوږه په اوږه جهاد يې کړی دی، يواځې د اسلامي حکومت د قيام او د شهيدانو د ارمانونو د تحقق خبرې او ادعا تر هغه نتيجه نشي ورکولای تر څو پورې مو چې د ټاکنو په دې بهير کې خپلې رأيې د مجاهدينو او شهيدانو د صف ملګري ته نه وي ورکړي.

د کمونستانو پرخلاف جوړ شوي د حزب جوانان افغانستان د مؤسسينو او دهغوی پر نقش قدم پل اېښودونکو ميليونو شهيدانو او مجاهدينو روح خوشاله کړ او له خپل رب سره خپله کړې وعده ترسره کړو؛ نو ددې يواځېنې لاره همدا ده چې د ورې په شپاړسمه په ترسره کېدونکې ټاکنو کې پراخه ونډه واخلو او خپلې رأی د جهادي کاروان له دريو هېواد شمولو ګوندونو څخه جوړ اصلاحات او همپالنې ټيم ته ورکړو، همدا زموږ د برې اصل راز او زموږ د ارمانونو د تحقق يواځېنۍ نقطه ده، هيله ده چې له اسلام او هېواد سره مينه لرونکې ټول افغانان، اتل مجاهدين او د شهيدانو عزت من وارثين به د غيرت ملا په تړلو سره د رأيو صندوقونو ته راځي او د مجاهدينو د اصلاحاتو او همپالنې ټيم ته د رأيو په ورکولو د افغانستان د مقدس جهاد د شهيدانو روحونه خوشحاله او اتل مجاهد ولس ته سرلوړي وبخښي.

فدامحمد فایش

آخرین هفتهٔ کمپاین

«متأسفانه هنوز هم عده یی چه بحیث افراد و چه هم بحیث حلقات در گرو انحصارات قومی، سمتی، زبانی و حزبی قرار دارند، در حالی که امروز جهان تغییر کرده است، منطقه تغییر کرده است، ایجاب میکند که افغانستان تغییر کند؛ اما این تغییر باید بصوب مثبت باشد، آنهایی که میخواهند از خیرات سر ارگ بقدرت برسند و در بین صفوف ملت چهره های شناخته شده و پذیرفتنی نیستند درین کشور نه با فساد مبارزه کرده میتوانند، نه عدالت را پیاده کرده میتوانند؛ بلکه افرادی هستند که فرمایشات عقب پرده را عملی خواهند کرد. تلاشهایی که بخاطر تقویت چنین یک تیم صورت میگیرد و جلساتی که درین رابطه در کابل و کندهار تدویر می یابد از نظر ملت پوشیده نیست. طراحی و مهندسیی که درین رابطه شده کاملاً قابل درک است.»

روزهای کمپاین انتخاباتی ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی به پایان خود نزدیک میشود؛ اما کمپاین شوراهای ولایتی تحت پوشش کمپاین ریاست جمهوری قرار گرفته است. در این هفته بشمول هفتهٔ گذشته کمپاینهای ریاست جمهوری به اوجش رسیده، بخصوص نامزدانی که پیشتاز شمرده میشوند بیش از همه فعال اند.

در مورد قوت و ضعف تیمهای انتخاباتی قضاوت کار بسیار دشوار هم نیست، کاندیداها هم قوت و ضعف خود را خوبتر میدانند؛ ولی اینبار نیروهای بیرونی هم مانند گذشته سیاست ذوالوجهین را در پیش گرفته و ارگ هم. اصلاً هیچ منطق نمی پذیرد که این دو قوت در مورد انتخابات ۱۶ حمل ۱۳۹۳ بیتفاوت باشند. تیمی که ارگ از آن پشتیبانی میکند از مدتها قبل برای پیروزی آن مهندسیی در کار بود و این حقیقت از ارباب خرد پوشیده نیست، اینکه ارگ میگوید از هیچ نامزدی حمایت نمیکند این در حقیقت توهین به ملت افغانستان است، معنای این گپ آن است که ملت افغان از کدام جنگل افریقا برآمده به افغانستان آمده، نه این کشور را میشناسد، نه زمامداران آنرا میشناسد و نه از جریاناتی که در پشت پرده مصروف است خبر است. ملت هم باید دیگر از خواب گران برخیزد و نگذارد که یا آمدگان از غرب و یا بقایای نظام خونخوار کمونستی بر سرنوشتش بازی کند. رأی یک امانت بزرگ ملی است، با آن نباید بازی صورت گیرد. متأسفانه هنوز هم عده یی چه بحیث افراد و چه هم بحیث حلقات در گرو انحصارات قومی، سمتی، زبانی و حزبی قرار دارند، در حالی که امروز جهان تغییر کرده است، منطقه تغییر کرده است، ایجاب میکند که افغانستان تغییر کند؛ اما این تغییر باید بصوب مثبت باشد، آنهایی که میخواهند از خیرات سر ارگ بقدرت برسند و در بین صفوف ملت چهره های شناخته شده و پذیرفتنی نیستند درین کشور نه با فساد مبارزه کرده میتوانند، نه عدالت را پیاده کرده میتوانند؛ بلکه افرادی هستند که فرمایشات عقب پرده را عملی خواهند کرد. تلاشهایی که بخاطر تقویت چنین یک تیم صورت میگیرد و جلساتی که درین رابطه در کابل و کندهار تدویر می‌یابد از نظر ملت پوشیده نیست. طراحی و مهندسیی که درین رابطه شده کاملاً قابل درک است.

به باور بنده ارگ نیاز اشد دارد. تا تیمی را بقدرت برساند که بلی گوی ولی نعمتان خود باشد و آنها را همینقدر افتخار بس که در محافل ملی و بین المللی بنام رئیس جمهور و معاون اول و دوم شناخته شوند زیرا اجراآتی که در دوازده سال گذشته صورت گرفته اهمالها و اغماضهای عمدی یی که صورت گرفته این همه قابل پرسش است. ما چرا قسمتهای خاک مسلم خود را در سرحدات ننگرهار، کنر و کندهار از دست دادیم؟ ایا این مسؤولیت را تنها بر دوش بیگانگان بیندازیم یا دستهای داخلی هم در آن دخیل بودند، غصبهایی که صورت گرفته، احکامی که در مغایرت با قانون بنفع یک گروه مافیایی داده شده، همه قابل پرسان اند و چنین موارد کم نیست، پس بخاطر پوشاندن چنین اجراآت ناسالم و خلاف قانون و سیاستهای مخالف مصالح کشور زمامداران کنونی بدون شک نیاز دارند یک تیم دست آموز خود را بقدرت برسانند تا پرده بر تمام اجراآت و سیاستهای ناسالم شان بیندازد، نه اینکه بگذارند تیمی بقدرت برسد که فردا دوسیه های اجراآت زمامداران امروزی را باز خوانی کند و از اجراآت ناسالم و مصلحتبازی های متضاد با منافع ملی از آنها بپرسد. من خودم برین باور دارم که هرم اصلی قدرت امروز بهیچ قیمت آماده نیست قدرت را کنار بگذارد و تلاشها درین راستا کاملاً محسوس است و همهٔ ملت آنرا می بیند، در حالی که حضور مجدد این هرم بدون شک بر سر شانه های ملت گرانی خواهد کرد. این ملت دیگر بسیار خسته است و دیگر تحمل تداوم سیاستهای دوازده سال گذشته را ندارد، ما نه میخواهیم فقط چهره ها برای یک دورهٔ پنجساله عوض شود؛ بلکه خواهان آنیم تا سیاستهای ناکام و ناپسندیدهٔ امروزی که ملت ما را بستوه آورده است پایان یابد.

هکذا نیروهای خارجی تظاهر به این میکنند که ما علاقه‌مند نیستیم در روند انتخابات افغانستان مداخله کنیم؛ ولی این ادعا هم هرگز پذیرفتنی نیست؛ زیرا از یکسو این نیروها اصرار بر یک حضور قانونمند خود در افغانستان میکنند، امضای پیمان امنیتی که آنها بر آن اصرار میورزند، فقط بخاطر همین است که حضور شان را برای ده سال آینده قانونمند بسازد ورنه در دوازده سال گذشته کدام دستاویز قانونی برای حضور آنها وجود داشت؛ ولی خواستند آمدند و حضور یافتند و هر آنچه را لازم دیدند به اجرا درآوردند، بناءً یک نظام همنوا و همصدا با آنها از جملهٔ ضروریات است. اینکه بالای چه تیمی میتوانند اعتماد کنند این سوالی است که جواب شان نزد خود شان است؛ ولی عقل حکم میکند که طبعاً آنها خواهان آن هستند، تا در آینده نظامی در افغانستان بر سر اقتدار باشد که بتوانند با هم کار کنند و هر روز از بینی شان نگیرد که چنین کردی و چنان؛ ولی تا جایی که دیده میشود اکنون سر نخ در دست ارگ است و باز هم میگویم که این کدام امر پوشیده نیست.

البته تیمهایی که امتیاز خود را یا گرفتند و یا وعدهٔ دادن به آن را بدست آوردند به نفع تیم طرف تأیید کاخ نشینان ارگ از صحنه کنار رفتند که این کاندیداتوری و کنار رفتنها همه جزء همان مهندسیی است که صورت گرفته است؛ ولی کاندیدانی که در صحنه باقی مانده اند باید کم از کم بخاطر جلوگیری از تقلبات مهندسی شده طرح مشترک و کارایی را بریزند، نگذارند در نقاطی که اصلاً اجرای انتخابات در آنجا ممکن نیست، فقط بخاطر پر کردن صندوقها، صندوق گذاشته شود، در دوره های گذشته ملت شاهد چنین تقلباتی بوده است و اینبار طبعاً طرحهای جدیدی بر طرحهای گذشته افزوده شده است.

بنده لازم میدانم یکبار دیگر تکرار کنم که ملت جداً نیازمند یک تحول مثبت در همه عرصه هاست، و این تحول بدون وجود یک حکومت نیرومند و مصمم ممکن نیست و حکومت نیرومند و مصمم زمانی بوجود آمده میتواند که مشروعیت خود را بصورت حقیقی نه؛ مصنوعی از آرای ملت بگیرد و این کار زمانی ممکن است که ما واقعاً شاهد انتخابات شفاف و عاری از هرگونه تقلب و مداخله باشیم.

درنو هېوادوالو،
فرصت له لاسه مه ورکوئ

محمدخلیل

بالاخره د انتظار شیبې پای ته ورسیدلې، د راتلونکې شنبې په ورځ به په ګرد افغانستان کې ټولټاکنې ترسره کېږي او په ملیونو هېوادوال به د خپلې خوښې ولسمشر ټاکي. د ټاکنو دغه ورځ زموږ د ټولو افغانانو لپاره مهمه او برخلیک ټاکونکې ده، دغه ورځ د رأیې ورکوونکو لپاره له ازمېښت او مسؤولیت نه ډکه ورځ ده، نه ښایي ددغې ورځې له اهمیت نه سترګې پټې کړای شي او رأیه هسې د کاغذ یوه پاڼه وګڼل شي؛ بلکې هر رأیې ورکوونکی ته پکار ده چې خپلې رأیې ته په ډېر درنښت وګوري او په ارزښت یې قایل شي. رأی ورکول اصلاً هغه الهي حکم ترسره کول دی چې د کائناتو خالق او مالک ذات مسلمانانو ته د امر په صیغه تاکید کړی دی چې تاسې د امانت بار دهغه چا پر اوږو اچوئ چې د اوچتولو وړتیا یې لري. له څه شک پرته د هېواد د ولسمشرۍ دنده تر ټولو لوی مسؤولیت او درووند بار دی، که دغه درووند مسؤولیت د داسې چا پر اوږو واچول شي چې د اوچتولو توان او اهلیت یې نه لري؛ نو موږ، نه یواځې دا چې هغه شاخ پخپلو لاسو پرې کوو چې ورباندې ناست یو؛ بلکې د الله تعالی له څرګند حکم نه د سرکشی له کبله هم دهغه جل جلاله قهر او غضب ته بلنه ورکوو. څرنګه چې موږ د یو مسلمان ولس په توګه تل مو له خپلو اسلامي اصولو او عقایدو نه پخپلو وینو دفاع کړی او لومړی ارمان مو هم همدا دی چې د ژوند تر اخرنیو سلګیو پورې د خپلو اسلامي او افغاني ارزښتونو ساتنه وکړو؛ نو پر موږ ټولو لازمي او ضروري ده چې د رأیې ورکولو په ورځ دا ټول اړخونه په نظر کې ونیسو او په دې خبره ژور غور او فکر وکړو چې ولسمشري ته په ولاړو نوماندانو کې زموږ دغه غوښتنې که په سلو کې سل نه وي تر یوې کچې پورې کوم نوماند د ترسره کولو اهلیت لري؟! ځواب یې څرګند دی، هغه دا چې په ولاړو نوماندانو کې دوه درې یې داسې دي چې د ګټلو امکانات یې روښانه دي، په ځانګړې دول ښاغلی ډاکټر عبدالله عبدالله یواځینی کاندید دی چې د ګټلو چانس یې هم ډېره روښانه دی او د افغانستان د استقلال او د اسلام د سپیڅلی دین په دفاع کې هم د جهاد په لومړۍ صف کې په میړانه ودریدلې او د خپلو دیني او ملي ارزښتونو په ساتلو کې یې پوره ونده اخستې ده، خپل ټول ژوند یې په افغانستان کې تېر کړی او هر ډول تودې سړې یې همدلته ګاللې دي پاتې دوه نور نوماندان هغه اشخاص دي چې په افغانستان کې د جهاد په کلونو کې له خپل هېواده لېرې یې په پردیو هېوادو کې د بې غمۍ شپې ورځې تېرې کړی دي، نه یې جهاد کړی او نه هم د افغانانو د اسلامي عنعناتو او کلتور د پیاوړی کولو لپاره له ژبې، قلم او پیسو څخه کار اخستی، نه یې چیرته د افغانستان د برحق جهاد تایید کړی او نه یې هم د مجاهدینو او شهیدانو شکریه ادا کړې؛ بلکې هر وخت او هر چېرته یې د مجاهدینو پرخلاف منفي تبلیغات کړي دي، اوس نو افغانان دی پخپله فکر وکړي چې له دغو اشخاصو کوم یو شخص د افغانستان د مسلمان ولس د ارمانونو د ترسره کولو وړتیا لري؟ ایا هغه شخص چې عملاً یې د جهاد په ډګر کې خپلې وینې او خپلې خولې بهولې او که هغه څوک چې په بهرنیو هېوادو کې یې بې غمه ژوند تیر کړی؟!

له هېواد او ولس سره مینه هغه ده چې د ستونزو او کړاوونو پر وخت د مضبوط غره په څېر مقاومت وکړي او هرې قربانۍ ته لبیک ووایي نه دا چې د قربانۍ پر وخت پښې وباسي او د نعمتونو پر وخت بیا د خپل اولس او هېواد د خدمتګار شعارونه ورکړي.

موږ افغانان داسې یو مشر او قائد ته ضرورت لرو چې د قربانیو پر مهال هم د ولس ترڅنګ ولاړ وي او د خوښیو پر مهال هم؛ نه داسې قائد ته چې یوه پښه یې په افغانستان کې وي او بله پښه یې په اروپا کې، د خوښیو په وخت کې ځان افغان او خدمتګار ښکاره کړي؛ خو د قربانیو پر وخت د اروپا خوندونه واخلي. د افغانستان مسلمان ولس دی دا واقعیتونه په نظر کې ونیسي چې کوم اشخاص په سختو شرایطو او ستونزمنو حالاتو کې د افغانانو ترڅنګ نه دي ولاړ او دهغوی په درد او غم کې یې ځانونه نه دی شریک کړی هغوی په اوسنیو حساسو شرایطو کې هم زموږ د هېڅ درد دوا نشي کیدلای. د پښتو متل دی چې سبا تاری یې وګوره او بیا غرمه ورباندې پاتې شه، موږ ددغو اشخاصو سبا تاری لیدلې نه ښایي غرمې ورباندې پاتې شوو.

که واقعیتونو ته ځیر شو او د ټولټاکنو دیني اهمیت وپېژنو؛ نو ضرور به دا نتیجه ترلاسه کړو چې موږ اصلاً د ورې په شپاړسمه د خپل هېواد د برخلیک ټاکلو پریکړه کوو، خپل هغه اسلامي او ملي مسؤولیت ترسره کوو چې د خپل زعیم د غوره کولو لپاره خپلې هغه رأیې استعمالوو چې د اسلام دین اهلیت لرونکي شخص ته د ورکولو امر کړی دی. له څه شک پرته هغه شخص زموږ د رأیو اهل دی چې هغه له هر څه دمخه ریښتونی او متعهد مسلمان وي؛ د اسلام لپاره یې مبارزه کړې وي او د اسلامي ارزښتونو د حفاظت لپاره ژمن وي، ددې ترڅنګ عصري علوم یې هم ویلې وي او په ملي او بین المللي مسایلو هم عبور ولري، هغه څوک چې له اسلامي علومو سره اشنایي ونه لري که هغه ځانته څومره نابغه او علامه ووایي د افغانانو لپاره د خدمت مصدر نشي ګرځیدلی، ځکه چې افغانان دیني او دنیوي دواړه پرمختګ غواړي؛ نه دا چې په دنیوي لحاظ پرمختګ وکړي؛ خو په دیني لحاظ وروسته او کانه پاتې شي.

زموږ په هېواد کې دهغو خلکو څه کمی نه دی چې د اسلام سپیڅلی دین صرف او صرف تر مسجدونو او ذکر او اذکارو پورې محدودول غواړي، هغوی د ژوندانه نورې چارې له اسلام نه جلا ګڼي او په بشپړ دول د اسلام له دایرې نه دباندې د آزاد ژوند تېرولو لپاره زمینه برابروي، ددې لپاره چې زموږ د میلیونو شهیدانو وینې او د میلیونو مجاهدینو، معیوبینو، یتیمانو، کونډو رنډو او خویندو ارمانونه تر پښو لاندې نشي، د ورې شپاړسمه زموږ ټولو لپاره له اهمیت نه ډکه ورځ ده، دا ورځ په هېواد کې د توري او ټوپک له استعمالولو پرته د رایو د استعمالولو له لارې د یو مثبت انقلاب د راوستلو زبردست فرصت دی؛ نو ځکه د افغانستان ټول هغه متعهد مسلمان ورونه چې د افغانستان د آزادی او د اسلام د مقدس دین د دفاع په جهاد کې برخه اخستې په دې ورځ دې ټول اختلافات څنګ ته کړي او یواځې او یواځې دی د میلیونو مجاهدینو او شهیدانو د وارثینو د ارمانو د تحقق او په هېواد کې د ی د مجاهد قیادت د راوستو لپاره خپلې رایې ښاغلی عبدالله عبدالله ته ورکړي، تر څو یوه لوری ته د مجاهدینو د وحدت کړی مضبوطې شي او بل لوري د موږو راهیسې ناترسره شوي ارمانونه مو تحقق ومومي، که الله مه کړه دغه طلایي چانس مو له لاسه ورکړ او یو ځل بیا د سهوې مرتکب شوو؛ نو له یو لوی نه جبران کېدونکي تاوان سره به مخامخ کېږو چې د لاسونو له مروړلو پرته به بل هېڅ نشو ترلاسه کولای. راځئ خپل تېر اشتباهات جبران کړو او ټول د اسلامي تنظیمونو غړي او خواخوږي خپل مجاهد ورور ښاغلی عبدالله عبدالله د هېواد راتلونکی ولسمشر په توګه منتخب کړو، تر څو افغانستان او مسلمانانو ته مضبوط بنسټونه چمتو او د خپل هېواد د مؤثری دفاع، امن او چټک پرمختګ لپاره لاره هواره کړو.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سیاسي ارګان

خبرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردیږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

جلسات متعدد صدها هزار ...

رهبران تیم: دکتور عبدالله عبدالله، انجنیر محمدخان و استاد محمد محقق به احساسات مردم جواب میگفتند و طی سخنرانیهای پرشور و عالمانهٔ شان به توده های ملت وعدهٔ خدمت میدادند. درین جلسات مردم همه به یک صدا دست بلند میکردند و وعده میدادند که به تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی رأی میدهند.

تفاوت جلسات انتخاباتی تیم اصلاحات و همگرایی با دیگر تیمها این است که تعداد زیادی از مردم و با شور و شوق درین جلسات حصه گرفته و حضور بهم میرسانند. این تیم باور دارد که رأی اول را داراست و ان شاء الله برندهٔ انتخابات است، اکثریت قاطع ملت مجاهد افغانستان ازین تیم اعلان حمایت کرده است. امروز هم این تیم در هرات باستان جلسهٔ انتخاباتی خواهد داشت و در ولایات دیگر هم بنوبه جلساتی صورت خواهد گرفت.

د بدخشان واخان دویم ملي...

وړانګه علیزی کاوي، د چاپېریال ساتنې ملي اداري او د کرنې وزارت د واخان سیمې ته د اساسي قانون د ۳۷، ۳۸، ۳۹، او ۴۰ مادې پر اساس د دویم ملي پارک نوم ور کړ.

د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې د مشر مصطفی ظاهر په وینا په دغه سیمه کې که څه هم کرکیله ډېره نده، خو بیا هم دغلته دوه ډوله غنم کرل کېږي چې یوازې په همدغه سیمه کې پیدا کېږي.

له دې وړاندې په ۱۳۸۸ کال کې د بامیانو ولایت د بند امیر سیمه د افغانستان لومړی ملي پارک وبلل شو.

د کرنې وزیر محمد آصف رحیمي وایي، د ۱۳۸۴ کال را په دې خوا د دغې سیمې خلکو له دوی سره ژمنه کړې وه چې هغوی به د ځناورو پر ښکار بندیزونه لګوي..

ښاغلي رحیمي زیاته کړه، نن سبا په هغه سیمه کې د ځناورو او نورو مرغانو ښکار که سل په سلو کې نه دی بند شوی، خو تر ډېره خلک له ښکار کولو ډډه کوي.

د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال غلام نبي فراهي وایي دغه شان پارکونو جوړول به د افغانستان په اقتصادي پر مختګ کې ډېره ونده ولري.

د واخان د سیمې ډېرې برخې د پامیر او هندوکش غرونو په څنډو کې پرتې دي چې دغې لرغونې سیمې ته یې ځانګړې ښکلا ور په برخه کړې ده.

روسیه برای تسلیم دهی ۳۰ ...

مجهز با سلاح، مهمات و طیاره های روسی.

حالا مسکو می گوید: سی هلیکوپتری را که برای قوای هوایی افغانستان وعده داده شده بود، به این کشور خواهد سپرد.

الکساندر فومین رییس خدمات فدرال روسیه در امور همکاری های تخنیکی نظامی به خبرگزاری ایترتاس گفته که با وجود احتمال قطع همکاری های نظامی با امریکا و وضع تحریم ها، این هلیکوپتر ها برای قوای هوایی افغانستان سپرده خواهد شد.

به گفته آقای فومین، روسیه همواره تعهداتش را در مورد افغانستان و هر کشور دیگر عملی کرده و قراردادی که برای تسلیم دهی هلیکوپتر های می هفده Mi – 17 با امریکا صورت گرفته بود، عملی خواهد شد.

در ماه فبروری گذشته نماینده های اردوی روسیه گفته بودند که شش هلیکوپتر ترانسپورتی را بر اساس قرار داد با امریکا، به قوای هوایی افغانستان سپرده اند.

انتظار می رود سایر هلیکوپتر ها در جریان سال ۲۰۱۴ به افغانستان تسلیم داده شوند.

پیش از این قرارداد خرید بیست و یک هلیکوپتر میان مقام های حکومت امریکا و شرکت روسی موسوم به روسو بورون ایکسپورت، در ماه می سال ۲۰۱۱ امضا شد و تا اواسط سال ۲۰۱۲ این طیاره ها به افغانستان تسلیم داده شدند.

سپس در سال ۲۰۱۳ قرارداد بزرگ خرید سی هلیکوپتر دیگر هم میان حکومت امریکا و شرکت روسو بورون ایکسپورت صورت گرفت.

در سال های گذشته، سی و نه هلیکوپتر می هفده به افغانستان تسلیم داده شده اند.

خبرگزاری ایترتاس روسیه می گوید: در مجموع شصت و سه هلیکوپتر می هفده که ارزش آنها بیش از یک میلیارد و سه صد میلیون دالر می شود، به قوای هوایی افغانستان سپرده شده اند.

تمامی این هلیکوپتر ها با وسایل پیشرفته به شمول شب بین های قوی مجهز اند.

قوای هوایی افغانستان برای چندین دهه از سلاح و طیاره های روسی استفاده کرده و تخنیک آن برای افغان ها شناخته شده است.

د ټاکنو په ورځ به ۸۴۸ ...

داسې ښکاري چې سر له اوسه یې د پایلو په اړه د افغانستان د ټاکنو له خپلواک کمېسیون سره اندېښنې شته.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د دارالانشاء مشر ضیاء الحق امرخیل له امنیتي چارواکو سره په ګډه خبري غونډه کې وویل، د ولسمشریزو ټاکنو له نوماندانو غواړي چې د دغو ټاکنو پایلو ته درناوی وکړي.

هغه وویل، دا چې د ډېرو ستونزو په ګاللو خلک د ټاکنو صندوقونو ته ځي نو نوماندان باید دا وضعیت درک کړي او د ولس رایې ته احترام وکړي.

د ښاغلي امرخیل بله غوښتنه له نوماندانو دا وه چې خلک په ټاکنو کې درغلۍ ته ونه هڅوي او د خپلو خاورنګو په استولو سره د ړنو ټاکنو په ترسره کولو کې له کمېسیون سره مرسته وکړي.

هغه زیاته کړه د ټاکنو کمېسیون د درغلۍ کوونکو په وړاندې جدي دی. ضیاء الحق امرخیل دغه راز د درغلۍ په مخنیوي کې د مدني ټولنې د غړو او خلکو مرسته هم وغوښته.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون داسې مهال دغه خبرداری ورکوي چې د ولسمشرۍ ټاکنو څینو نوماندانو په ټاکنو کې د احتمالي درغلیو په اړه اندېښنه ښودلې ده.

دوی ګواښ کړی، که درغلۍ وشي نو د ټاکنو پایلې به ونه مني.

که څه هم امنیتي ستونزې د ټاکنو په وړاندې لوی خنډ بلل کېږي خو د ټاکنو کمېسیون چارواکي وایي، د کمیسیون پر مرکزي دفتر د شنبې ورځې برید او نور بریدونه به د دوی هوډ بدل نه کړي.

د کمېسیون چارواکي دغه راز هیله لري چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو پرتله دا ځل ډېر خلک په ټاکنو کې برخه واخلي.

د دوی په وینا د تیرو ټاکنو پرتله دا ځل د رایې ورکولو زیات مرکزونه فعال دي او لړ یې چې لس سلنه کېږي، بند دي.

نمی گذاریم تروریستان به...

همچنان ادامه خواهد داد.

او همچنین گفت که اکنون مسوولیت رهبری عملیات های نظامی در افغانستان به عهدهٔ نیرو های امنیتی این کشور گذاشته شده و ناتو همچنین متعهد است که مسوولیت های امنیتی را تا پایان امسال به طور کامل به نیرو های افغان واگذار کند.

این مقام گفت که در دستور کار این است که پس از تکمیل برنامه، واگذاری مسوولیت های امنیتی به نیرو های افغان، ناتو نقش جدید خود را در افغانستان آغاز می کند که مشمول آموزش، مشوره دهی و همکاری با نیرو های ۳۵۲ هزار نفری افغان می شود.

اما، او افزود که این مساله به یک چارچوب قانونی نیاز دارد که باید نخست میان ناتو و حکومت افغانستان روی آن توافق صورت گیرد.

این مقام ناتو همچنین افزود که تداوم کمک ناتو با نیرو های افغانستان عمدتاً به امضای قرارداد امنیتی میان کابل و واشنگتن بستگی دارد.

با وجود آن که لویه جرگه، مشورتی که در آن نزدیک به سه هزار نفر اشتراک کرده بودند، به امضای این قرارداد امنیتی دو جانبه رای مثبت دادند، اما رییس جمهور افغانستان آن را امضا نکرده است.

په پاکستان کې دوه میلیونه ...

د پاکستاني ادارو د وینا له مخې تر یو میلیون زیات افغانان په پاکستان کې غیر قانوني توګه مېشت دي.

د ۲۰۰۴م کال په ولسمشریزو ټاکنو کې په پاکستان او نورو ګاونډیو هیوادونو کې مېشتو افغانانو کډوالو ته د خپلې رایې د کارولو زمینه برابره شوې وه، خو د ۲۰۰۹ میلادي کال په شان په سږ کال په اپریل میاشت کې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې په ګاونډیو هیوادونو کې مېشت افغان کډوال د رایو کارولو له حق څخه محروم پاتې شي.

په پاکستان کې د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د چارواکو د وینا له مخې په دغه هیواد کې مېشتو افغان کډوالو ته په راتلونکو ټاکنو کې د رایې ورکولو له پاره لا تر اوسه کومه لاره چاره نه ده لټول شوې. د پاکستان په خیبر پښتونخوا ایالت کې ډېر شمېر افغان کډوال اوسېږي. د خیبر پښتونخوا ایالتي حکومت ویاند او د اطلاعاتو وزیر شاه فرمان، له دویچه ویله سره په خبرو کې ویلي دي: "په بشپړه توګه دا د مرکزي حکومت او په ځانګړې توګه د بهرنیو چارو په وزارت کې له پالیسي سره تړلې ده. خو که چیرې مرکزي حکومت په دې اړه کومه پریکړه کوي نو د خیبر پښتونخوا حکومت د پالیسۍ مطابق په دې باندې د عمل کولو او په دې برخه کې د ټولو اسانتیاوو برابرولو ته چمتو دی."

په پېښور کې مېشت افغان کډوال د نړیوالو ادارو، پاکستان او افغانستان د دې چلند په اړه فکرمن دي. په پېښور کې مېشت د افغان چارو کارپوه امیرالله له دویچه ویله سره په خبرو کې ویلي دي: "موږ له نړیوالو ادارو او ټولنې څخه دا ګیله خامخا کوو چې په پاکستان کې مېشت له ۱.۶ میلیونه څخه د زیاتو افغان کډوالو رایې ته کوم اهمیت ور نه کړل شو. موږ داسې فکر کوو چې زموږ رایې به افغان حکومت بیاوړي کړي. زموږ رایې د پامه ورغورځولو څخه کړې یو."

د افغانستان نفوس چې شاوخوا ۳۰ میلیونه اټکل شوی، نږدې ۱۲ میلیونه به یې د اپریل میاشتې پر پنځمه نیټه د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې خپلې رایې وکاروي.

د درو کاندیدانو له تېریدو وروسته اوس د اتو کاندیدانو (د ریوټ د چمتو کولو تر مهاله) تر منځ سیالي تر سره کېږي. افغان ولسمشر حامد کرزی د اساسي قانون له مخې دریم وار په ټاکنو کې برخه نه شي اخیستی.

له تېر کال راهیسې شاوخوا ۳، ۷ میلیونه کسانو ته د رایې ورکولو نوي کارتونه وېشل شوي دي. له ۲۰۰۴م کال راهیسې ورکول شوي کارتونه په دغو ټاکنو کې د اعتبار وړ دي.

د افغانستان امنیتي مقامات وایي چې شاوخوا ۴۰۰ زره امنیتي ځواکونه به د امنیت ټینګولو ته چمتو وي او طالبان کولای نه شي چې د ټاکنو ورځ اخلال کړي. دا په داسې حال کې ده چې طالبانو د ټاکنو د ګډوډولو خبرداری ورکړی دی.

د ټاکنو د تر سره کېدو وروسته به د رایو شمېرل پیل شي او د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د وینا له مخې دغه پروسه به د اپریل میاشتې تر ۲۰ دوام ومومي او د اپریل میاشتې پر ۲۴ مه نېټه به د ټاکنو پایلې اعلان شي. که چیرې په لومړي پړاو کې کوم کاندید غوڅ اکثریت تر لاسه نه کړي، نو د مې میاشتې پر ۲۸ مه نېټه به د ټاکنو دوهم پړاو تر سره شي.

د اپریل میاشتې پر پنځمه نېټه پر ولسمشریزو ټاکنو سربېره به ۳۴ ولایتونو کې ولایتي شوراګانې هم ټاکل کېږي. ۴۵۸ څوکیو ته ۲۴۰۶ نارینه وو او ۳۰۸ ښځو ځانونه کاندید کړي دي. پر دغو ټاکنو شاوخوا ۱۳۰ میلیونه امریکایي ډالره لګښت راځي چې د نړیوالې ټولنې له لوري ور کول کېږي.